مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خوشحال آصفي

۲۰۱۹/۰۱/۰۹

# رياستي که نيمه رياستي نظام؛

## کوم د هيواد په ګټه دی؟

په داسي حال کي چي د افغانستان ولسمشرئ ټاکنو لپاره د نوماندانو نوملیکنه روانه ده؛ سر له اوسه د ځینو احتمالي نوماندانو د ټکټونو له ادرسه د اوسني رياستي نظام د بدلون او په نيمه رياستي نظام يي د اړولو خبرونه ورکول کيږي. هغوی چي د ولسمشر غني سياسي مخالفان او حکومت منتقدين دي؛ د اوسني نظام د بدلون غوښتنه کوي خو ولسمشر غني بيا وايي چي رياستي نظام ورته سره کرښه دی او په هيڅ صورت کي به له چا سره د اساسي قانون او د نظام د بدلون پر سر معامله ونه کړي. دغه خبره ممکن په راتلونکو ټاکنيزو مبارزو کي د ولسمشرئ د نوماندانو تر منځ د اختلاف ټکی اوسي.
اساسي پوښتنه دا ده چي د هيواد روانو حالاتو ته په کتو چي له يوې خوا ټاکل شوي امريکايي سرتيري له افغانستانه ووځي او بلې خوا د دولت او ولس د تهديد لپاره د دطالب تر څنګ داعش وسله واله ډله هم شتون لری؛ اوسنی رياستي نظام د ولس په ګټه دی او که د ځينو سياسيونو د غوښتني له مخي نيمه رياستي نظام؟
لومړی د نظام په ډولونو لنډه تبصره کوو.
يو نظام درې اساسي قواوې لري. لکه اجرايه قوه، مقننه او قضايه قواوې. دغو درې واړو د موجوديت او د دوی د صلاحيتونو او واکونو له مخي نظامونه بيا په درې برخو وېشل کيږي. لکه رياستي نظام، نيمه رياستي نظام او پارلماني نظام.

### رياستي نظام:

هغه دی چي په کي ولسمشر د دولت په راس کي ځای لري. يعني ولسمشر په کي د خلکو په رايه ټاکل کيږي او همدا لامل دی چي د بشپړ ولسي ملاتړ لرونکی وي او واک او صلاحيت يي هم له همدې امله پراخ وي. په دې نظام کي اجرايه قوه او مقننه قواوې کاملاً خپلواکي وي او د اجرايه قوې يعني ولسمشر په ټاکلو او عزل کي کوم نقش نه لري. همدا ډول په دې نظام کي مقننه قوه يعني د ولسي جرګي او مشرانو جرګي غړي هم د خلکو لخوا د ټاکنو له لوري ټاکل کيږي او په همدې اساس اجرايه قوه يعني ولسمشر هم نشي کولی چي پارلمان له منځه يوسي.
همدارنګه په رياستي نظام کي د دولت د کابينې وزيران ټول ولسمشر ته ځواب ويونکي وي او يواځي د تاييد لپاره پارلمان ته استول کيږي. پارلمان کولی شي چي د موجوده ستونزو له امله وزير استيضاح او استجواب کړي. همداشان په دغه نظام کي د ولايتونو واليان هم د ولسمشر په خوښه او امر ټاکل او يا له دندو ليرې کيږي.

### پارلماني نظام:

هغه نظام دی چي په کي اجرايه قوه يا ولسمشر د پارلمان څخه د باور رايه اخلي او د پارلمان د رايو پر اساس ټاکل کيږي. په دغه نظام کي د واک دوه ادرسونه موجود وي چي يو يي ولسمشر او بل يي صدراعظم يا لومړی وزير وي. دواړه د پارلمان تاييد ته اړتيا لري او دواړه پارلمان ته ځواب ويونکي وي. يعني پارلمان کولی شي چي ولسمشر او صدراعظم تاييد او يا ترې د باور رايه واخلي. همدا ډول وزيران هم پارلمان ته ځواب ويونکي وي او کولی شي چي د کابينې وزيران استيضاح او استجواب کړي.
په پارلماني نظام کي اصلي واک او صلاحيت د پارلمان په لاس کي وي او د ټولو قواوو په راس کي ځای لري. همدارنګه په پارلماني نظام کي بيا ولسمشر دا واک او صلاحيت لري چي پارلمان لغوه او له منځه يوسي چي دا مساله ممکن د د اجرايه او مقننه قواوو تر منځ د خپل منځي نښتو او يو له بله د غچ اخيستلو سبب وګرځي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

## نیمه ریاستي نظام:

هغه نظام دی چي هم د ریاستي نظام او هم د پارلماني نظام نیمي نیمي ځانګړتیاوي لري. یعني په دی نظام کي هم ولسمشر د خلکو لخوا د رایو د اکثریت له مخي ټاکل کیږي او د پارلمان په مقابل کي ځواب ویونکی نه بلکي د ولس په مقابل کي ځواب ویونکی وي. خو د لکه د پارلماني نظام په شان په دغه نظام کي هم د دولت د کابینې وزیران پارلمان ته ځواب ویونکي وي او پارلمان کولی شي چي وزیران استیضاح او استجواب کړي. په دغه نظام کي د ولسمشر واک له صدراعظم سره نیمايي شوی وي او آن له ولسمشر څخه هم صدراعظم ډیر واک او صلاحیت لرونکی وي.

## اوسمهال کي کوم نظام ګټور او کوم زیان راوړونکی دی؟

افغانسان اوسمهال ریاستي نظام لري چي واک او صلاحیت کاملاً د ولسمشر په لاس کي وي او وزیران او والیان ټول ولسمشر ته ځواب ویونکي دي. لکه څنګه چي مخکي هم یادونه وشوه د حکومت سیاسي مخالفان او منتقدین د اوسني ریاستي نظام د بدلون غوښتنه کوي او غواړي چي ولسمشر دي دري مرستیالان ولري او د دولت اجرایه قوي واک دي په دوه برخو تقسیم شي چي نیم دي ولسمشر او نیم دي له صدراعظم سره وي. ولسمشر غني وايي اساسي قانون او اوسنی ریاستي نظام ورته سره کرښه ده او له هیچا سره به د اساسي قانون او د نظام د بدلون پر سره معامله ونه کړي.
اوسنیو حالاتو ته په کتو په داسي حال کي چي بهرني ځواکونه له افغانستانه د وتلو تکل کي دي او دښمن هم تیار په کمین کي ناست، تر څنګ یې د افغانستان مغرض ګاونډي هیوادونه او د سیمي استخبارات د افغانستان د پارچه کېدو انتظار باسي؛ په داسي حالاتو کي یواځي او یواځي اوسنی ریاستي نظام او اوسنی ولسمشر غني د بدبختیو د مخنیوي او د ګډوډیو د رامنځته کېدو څخه ساتنه کولی شي.
څکه مخکي یادونه وشوه چي له ریاستي نظام پرته نور دواړه ډوله نظامونو (نیمه ریاستي او پارلماني نظامونه) کي واک تقسیم وي او یا د پارلمان سره وي نو د افغانستان اوسني پارلمان ته په کتو چي د ګوتو په شمېر خلک په کي داسي دي چي د هیواد او ولس لپاره کار کوي نو ټول یې د شخصي او ګوندي ګټو ته وفاداره دي؛ دا له امکانه لیري نه ده چي که نظام پارلماني یا نیمه ریاستي شي او واک پارلمان ولري نو افغانستان دی تجزیه شي.
دویم دا چي که اوسنی نظام بدلون کوي او ولسمشر پارلمان ته ځواب ویونکی کیږي نو په هره وړه خبره او په هره ګوندي او یا سمتي خبره به هم ولسمشر د پارلمان لخوا استجواب کیږي او بیا به افغانان د وسله وال دښمن څخه دومره نه متضرر کیږي لکه د پارلمان او اولسمشر د خپلمنځي ټکر له امله چي زیان وي.
درېیم که اوسنی نظام بدلون کوي او د ولسمشر صلاحیت کمیږي او ورسره صدراعظم رامنځته کیږي نو دا به د ملي یووالي له حکومت څخه هم ډیره ترخه تجربه د ولس لپاره ولري. په اوسني نظام کي چي که څه هم اجرایه ریاست ځوکی شته خو لا هم واک د ولسمشر سره دی او وزیران ورته ځواب ویونکي دي؛ ومو لیدل چي ځینو وزیرانو حتی د ولسمشر امر ونه مانه او لا هم په غیر قانوني توګه په خپلي ځوکی ناست دي. ولیدل شول چي یو والي چي د ولسمشر خوا منفک شوی و تر میاشتو میاشتو یې له حکومت سره نادری ووهلي او حکومت یې ونڅکولو. نو که چیري واک بیخي له ولسمشره اخیستل کیږي او صدراعظم ورسره شریک کیږي نو حالات به له دې هم بدتر کړي.
څلورم که اوسنی نظام بدلون کوي او وزیران د ولسمشر په ځای پارلمان ته ځواب ویونکي کیږي نو دا به د وزیر او پارلمان تر منځ نور هم معاملو ته زمینه برابره، فساد به پراخ او د وزارتونو ناکارايي به لا هم زیاته کړي.
پنځم که چیري اوسنی ریاستي نظام بدلیږي نو ورسره به ولایت په ولایت د واک نوی او تازه جزیري پیدا شي او په هر ولایت کي به والي ځان ته ولسمشر وي. څکه په پارلماني او نیمه ریاستي نظام کي والیان ولسمشر ته په سمه توګه ځواب ویونکي نه وي.
پورته ته تحلیل ته په کتو ویلای شو چي د اوسنیو حالاتو د کابو کولو او په راتلونکي کي د بحرانونو د مخنیوي لپاره اوسنی نظام او اوسنی ولسمشر غني غوره ټاکنه ده چي کولی شي هم د خلکو او خاورې ساتنه وکړي او د دښمن شوم پلانونه شنډ کړي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ